AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاين

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک
۲۰۲۰/۰۷/۱۷

# روښانی جلال الدين ولي "جلاله" وبلل سو؟

د پښتنو د تاریخ لوستونکو ته معلومه ده چي روښان پیر بایزید انصاري (۱۵۲۱ ــ۱۵۷۵ع ) د هغه مذهبي ـ سیاسي خوځښت بنسټګر وو چي په لسمه هجري پېړۍ کي د یوه اصلاحي او سیاسي پروګرام له مخي په منظم ډول نژدې یوه پېړۍ دوام وکړ. روښان پیر، د هغه زامنو او لمسیو او دغه راز د هغه د لاري لارویو د خپلو لوړو او ملي ارمانو له پاره سرښندني وکړې او حماسي ئې وزېږولې. زه په دې حاضره لیکنه کي ددغه خوځښت پر یوه داسي اړخ رڼا اچوم چي زموږ څېړونکو او لیکوالو ډېره پاملرنه ورته کړې نه ده.

له بایزید روښان څخه د بي بي شمسو له نسه پنځه زامن پاته سول چي شیخ عمر، خیرالدین، نورالدین، کمال الدین او جلال الدین نومېدل. شیخ عمر د خپل پلار تر وفات وروسته د خلافت پر ګدۍ کښېنوست. نژدې شپږ کاله ئې دغه خوځښت رهبري کړ او د ۹۸۹هـ ق = ۱۵۸۱ع کال په محرم الحرام میاشت کي ئې په هغه خونړۍ جګړه کي له خپلو ورونو نورالدین او خیرالدین سره یوځای د حق په لار کي سر کښېښوو چي د روښانیانو په تاریخ کي ورته "غزای کلان" ویل سوې ده. دا جګړه د روښان بایزید د خپلخاني او یوسفزیو تر منځ پېښه سوې وه.

تر دغي جګړې وروسته مغولي شهنشاه اکبر ( ۱۵۴۲ــ ۱۶۰۵ع)د لاهور له لاري اټک ته راورسېد او د بیرته ستنېدو پر وخت ئې د روښان پیر بل زوی جلال الدین چي له همدې جګړې څخه ژوندی پاته سوی وو، له ځان سره بوت. په دربار کي ئې په هر نیت چي وو، له جلال الدین روښاني سره د مهربانی سلوک کاوه او جلال الدین هم له شهنشاه سره خپله وفاداري نه پټوله.

د اکبر پاچا په دربار کي جلال الدین روښانی یو کال پاته سو او وروسته د روښاني خوځښت او بایزید روښان د کورنۍ د یوه مخلص او صادق لاروي شیخ محمد (خلیل) په هڅونه او پلان له درباره په پټه وایستل سو. پر جلال الدین باندي د روښان پیر کورنۍ او ددغه خوځښت نور لارویان راغونډ سول. د بنګښو او اپرېدیو په سیمه "زاوه" نومی ځای کي ئې خپل مرکز وټاکه او له مغولي لښکرو او د هغه له حاکمانو او پلویانو سره څو پلا خونړۍ جګړې وکړې. سوبې ئې په برخه سوې او په پای کي د غزني کلا تر فتح وروسته د هزارګانو په لاس شهید سو ( ۱۰۱۲هـ ق = ۱۶۰۳ع). سر او لاس او پښې ئې هزاره ګانو غوڅي کړې او اکبر پاچا ته ئې ولېږلې. پاته هڅونه ئې تر شهادت یو کال وروسته له غزني څخه دحسین قندهاري په همت د پیر روښان لمسي احداد ته راوړل سول او د هغه په امر د خپل نیکه بایزید روښان د قبر تر څنګ په درناوی سره ښخ سول. دغه وخت د روښاني خوځښت مشرتوب د همدغه احداد په لاس کي وو. احداد د شیخ عمر زوی او د خپل اکا (تره)جلال الدین روښاني په لاس روزل سوی وو.

له جلال الدین څخه په پاته سوو اولادو کي الهداد د رشیدخان په لقب د جانګیر پاچا ( ۱۵۶۹ــ ۱۶۲۷ع ) له مقربینو څخه وو او د جاګیر سیمه ئې رشید آباد نومېدله . رشید خان په همدغه رشید آباد ښارګوټي کي مړ سو( ۱۰۵۸هـ ق) او هوري ښخ دئ.

د روښاني جلال الدین د همدې پېژندګلوۍ تر لیکلو وروسته اوس غواړم د خپلي لیکني اصلي مطلب ته راسم.

روښاني جلال الدین چي د مغولي شهنشاه جلال الدین محمد اکبر دربار ته ورسېد، د مغولي دربار نورو درباریانو ورته ښه نظر نه درلود، خو د شهنشاه له ډاره ئې په خوله څه نه ویل. شهنشاه غوښتل چي په دربار کي د جلال الدین روښاني په ساتلو سره روښاني خوځښت د لیډرشیب په خلا اخته کاندي. د دربار غوړه مالانو شهنشاه اکبر ته په چاپلوسی سره داسي وښوول چي په دې عظیم الشان دربار کي د دوهم جلال الدین د نامه اوریدلو تحمل نه لري او پر روښاني جلال الدین ئې "جلاله" لقب کښېښوو او په همدې نامه ئې وباله چي د شهنشاه رضائیت ئې هم مل سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

له دغه نامه سره به د هغه وخت په مروجو تاریخو کي ښاغلي لوستونکي ډېر مخامخ سوي وي. زموږ پښتنو لیکوالو او شاعرانو هم دغه نوم راوړی دئ.خو په دې حقیقت به لږ کسان خبر وي چي دا نوم ولي پر روښاني جلال الدین باندي کېښېښوول سو؟
د جلال الدین د نامه لنډیز، معمولاً "جلال" وي. تصغیري بڼه ئي "جلالی" راځي. د ناز او محبت له پاره " جلالو" هم ورته ویل کېدلای سي . خو درباري غوږه مالو دی" جلاله" وباله. دا نوم د تحبیب او د شهنشاه له نامه سره د التباس په خاطر ورکول سوی نه وو، بلکي د تحقیر او سپکاوي په نیت پر ایښوول سوی وو.
"جلاله" په عربي ژبه کي هغي خزندی ته ویل کېږي چي د انسانانو د سرګین ( قاذورات) په خوړلو پایي. له دغه سرګین څخه ګردی کلولي جوړوي او تر خپلو غارو پوري ئي رغړوي. په المعاني الجامع کي ئي د جلاله کلمي ته کښلي دي :" حَشَرَةْ من مغمدات الأجنحة تعیش على الروّث".
ترجمه : د کلکو وزرونو لرونکي یوه خزنده ده چي  په ګنګیو پایي.
د " فرهنګ جامع کاربردی فرزان " په نامه عربي ـ فارسي قاموس کي ئي د "جلاله" یوه معنا " پلیدی خوار" کښلي ده. دغي خزندې ته په کندهار کي" مرغټانه" وایي. د کابل خلک ئي زما په خیال قانغوزک بولي.
د مغولي دربار اراکینو ددې نامه په کارولو سره غوښتل چي د جلال الدین روښاني حیثیت ته صدمه ورسوي. جلال الدین غرنی پښتون وو او د چلبازو او دسیسه بازو درباریانو په فتنو ئي سر نه خلاصېده.
له امکانه لیري نه ده چي د شیخ محمد (خلیل) به د درباریانو په دغه سوء نیت سر خلاص سوی وو او له همدې اسیته به ئي له مغولي دربار څخه د روښاني جلال الدین درا ایستني او  تښتوني پلان جوړ کړی وو.
د " جلاله" نوم کارول او تکرارول مي اوس هم کله کله تر سترګو کېږي. زما له زلمیو لیکوالو، شاعرانو او د تاریخ له لوستونکو  او څېړونکو څخه هیله داده چي ددغه نامه (جلاله) له کاروني څخه ډډه وکړي اوپر ځای ئي روښاني جلال الدین ولیکي.

آشاوا ــ کاناډا
۱۷مه د جولای ۲۰۲۰ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ